افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@gmail.com

| | |
|---|---|
| Arts & Music | هنر و موسیقی |

مریم ناصحي
ژباړه: فرهاد وياړ
(دریمه برخه)

# ويکتور خارا، د انقلاب سندرغاړی

په ۱۹۷۰ کال کې، د چيلي د ولسمشرۍ په ټولټاکنو کې د سالوادور آلنده د بريا سره، د بيوزلو خلکو په زړونو کې د هيلي رڼا ځريکي ووهلی. ويکتور هم، د ټولني د نورو ډيرو سوسياليستو او کيڼ اړخو ځواکونو او فعالينو په شان، له سالوادور آلنده ملاتړ وکړ. د هغی په ټاکنيزو سيالی کې يې شتون درلود او په کراتو يې ترانه ووېلی. د «موږ به بريالی شوو» معروفه ترانه، ويکتور په همدې وخت کې وويله، چې د چيلي د کيڼ اړخو د يووالي په شعار بدله شوه:

موږ به بريالي شوو
او ځنځيرونه به د شليدلو پرته بله چاره ونلري
او موږ به د يو بل تر څنګ تاريخ په حقيقت بدل کړو

د سالوادور آلنده بري په ټولنه کې د يو شمير سياسي او اقتصادي بدلونونو سربيره، زياتي کلتوري او هنري پايلي هم له ځانه سره لرلی. هغه وخت، ګڼ شمير د تئاتر او موسيقی ډلي جوړيدی او د هنري برنامو د اجرا کولو لپاره، د چيلي بيلابيلو سيمو، عمدتا کارګر ميشتو سيمو ته سفر کاوه. د « نوی تراني غورځنګ» په شان حرکتونه په همدې وخت کې رامنځته شول. ويکتور د دې نوي حرکت يو تن بنسټ ايښودنکی او فعال و. په دې پېر کې، د نړۍ د ادبياتو مهم آثار د ارزانه کاغذونو پر مخ په دومره بيه چې آن يو کارګر او زيارکښ يې هم د پيريدلو توان درلود، عرضه کيدل. د هغه کارګر او زيارکښ ليدنه چې ليک او لوست يې کولای شو او په بسونه کې د جک لندن، توماس مان، داستايوفسکي يا د مارک تواين دوستانونه لوستل، د چيلي د هغو ورځو يوه عادي پديده وه. د بنه ژوند شور و شوق ټوله چيلي نيوله وه. انځورګرانو د سانتياګو پر ديوالونو انځورونه کاږل، شاعرانو خپل شعرونه خلکو ته لوستل، د تئاتر د سالونونو ورونه د کوڅي او واټ د خلکو پر مخ پرانيستل شوي وو؛ او ويکتور هم خپل ګيتار په څنګ کې نيو او په پارونکي حالت سره يې د ليوالو خلکو ګڼي ګوني ته خپلې ترانې ويلی. خو دا پارونکی ژوند، دا نوی ژوندون، د ټولو نيمګړتياو او ستونزو سره سره، يوازې درې کاله و او بالاخره د لاتيني امريکا د ټولو دموکراتيکو او آزادي غوښتونکو غورځنګونو برخليک د چيلي ګريوان هم ونيو: کودتا!

ترانې نه لولم
د دې لپاره چې د ترانې ويلو مين يم
يا دا چې خپل غږ نور ته وښيم
يوازې د دې لپاره يې لولم
چې ګيتار مې د دې کار لپاره خپل دليلونه او انګيزې لري.
هغه ګيتار چې خاورين زړه لري
او د کوترې په شان الوزي
او د پاکو اوبو په شان له لوړې راتوييږي
عافيت ګواکې چې «ميرنى» او «محتضر» دى.
د دې لپاره ترانې وايم
چې غږ مې د بيان لپاره انګيزه پيدا کړه
څرنګه چې «ويولتا پارا» ويل،
هو! زما ګيتار د يو کارګر په شان دى
سمسور او وږمه وهونکى لکه پسرلى،
دا د شتمنو ګيتار نه دى
چې د پيسو او قدرت لپاره، حرص او طمعه ولري
يوازې د هغو خلکو لپاره دى چې کارګران دي.
د لهو او بنادى لپاره يې نه وايم
يا دا چې وغواړم پردي وژړوم
ترانه وايم د خپل تاتوبى د ليرې سيمو لوڅو او لغړو انسانانو ته
هغوى ته چې د ګرنګونو په ګرنګونو کې ژوند کوي
پر هغه ځمکه چې موږ په کې پيلوو
پر هغه ځمکه چې موږ په کې پاى ته رسوو
زړورې ترانې، تل
نويو فريادونو ته د زيږيدنې امکان ورکوي

دې ترانه چې «د خارا مانيفست» نوم واخيست، د جنرال پينوشه له کودتا څه موده وړاندې وويل شوه. د خارا انګليسى ميرمن، يوان ترنر، له قوله ويل کيږي چې هغه دمخه پوهيده چې په کودتا کې به ووژل شي او له همدې کبله يې خپل «مانيفست» ووايو.

د ۱۹۷۳ کال د سپتمبر په يوولسمه نيټه، ويکتور خارا له خپل کور بهر راووت، څو د خپلې دندې لپاره فني پوهنتون ته ولاړ شي. يو شمير کسان په واټونو کې په منډو منډو يو خوا بلې خوا تلل. ويکتور پوهنتون ته د عمومى ور څخه ننوت. محصلين ټول راغونډ او چمتو وو؛ د پوځ د شوبلو او توپونو مقابلې ته چمتو. پر پوهنتون د پوځيانو لومړى

برید یي پر شا وتمبو. د ښادی کوکاری هوا ته پورته شوی. خو کله چي شوبلي په حرکت شوی او د هغوی اوږدو شپیلو د پوهنتون دیوالونه تر هدف لاندي ونیول؛ کله چي لومړنی توغندی وتوغول شو او دیوالونه راوغورځیدل؛ د ښادی او هلهلي له هغه فریادونو او آوازونو نبني نبناني پر ځای پاتی نشوی. وسله والو سرتیرو بیا یرغل وکړ او دا ځل د پوهنتون انګړ ته راننوتل. هغو کسانو چي لا مقاومت کاوه، وهل وخوړل، په وینو لت پت او ککړ شول او بالاخره لاس ترلي، په داسي حال کي چي د سرتیرو د توپک سرې شپیلی د خپلو ځتونو تر شا، حس کولی، بندیخانیو ته ویوړل شول. ویکتور هم د هغوی په منځ کي و. د ویکتور غږ چي د آماندا سره یي فریاد کاوه، غوږونو ته راورسید:

**زویه، مور دي روانه شوی ده**

**هغوی پراخه واټ مخې ته لري**

**او په چټکو ګامونو سره د جوارو له کروندو تیریږي**

**راشه، له ما سره راشه**

**چي دا پراخه واټ شا ته پریږدو**

**بله راتلونکی د زیږیدني په حال کي ده.**

ویکتور د زرګونو نورو سیاسي فعالینو سره ونیول شو. کارخاني او د مقاومت ټول مرکزونه بمبار شول. سالودور آلنده د ولسمشری په دفتر کي د کودتاچیانو د یرغل په وړاندي مقاومت وکړ او د پوځي شوبلو او الوتکو لخوا د ولسمشری د مانۍ د درني بمباری له امله مړ شو. یوان ترنر، د ویکتور میرمن، چي څنګه د هغي د بندي کیدو څخه خبره شوه د مرستي لپاره د انګلستان سفارت ته ولاړه، خو د انګلستان سفارت دروازه د نورو هیوادونو د سفارتونو په شان د هغي او زرګونو نورو انسانانو په مخ چي د سانتیاګو د وینو له سیند څخه تښتیدلي وو، ترل شوی وه. د پینوشه متحدینو، د چیلي د خونړی کودتا سبمالونکي، د کودتا د وروستی پردې، د کارګرې طبقي او د محرومو خلکو د ککک ځپلو انتظار درلود. د هغو خلکو فریادونه چي په بی شمیره وسلو سمبال پوځ د شوبلو او توپونو د وحشیانه یرغل څخه تښتیدل، چا نه اوریدل. د دموکراسي مدافعینو خپل غوږونه بند کړي وو، څو کودتا د محرومو خلکو د وینو په سیند کي او د بندیانو د جوپې پر ځپو آرامه شي او ساحل ته ورسیږي.
ویکتور او زرګونه زره نور کسان یي ملي لوبغالي ته ویوړل. د ویکتور لپاره دا کار ډیر عجیب حکایت ته پاتي کیده. دا لوبغالی له دری کلونو راپدیخوا د «ویکتور خارا» لوبغالی نومیده، او اوس ویکتور هلته و. په دې لوبغالي کي ویکتور خارا لاس ترلی تر وهلو او ډبولو لاندي ونیول شو.
هغه کسان چي په دې لوبغالي کي وو او د پوځ د ډله ایزې وژني څخه ژوندي پاتي شول، ورځي او کلونه وروسته یي ویل چي: ویکتور د ټولو شکنجو سره سره، میړنی او اتل پاتی شو، د یوه ښه ژوند لپاره د مبارزې یو سمبول. ترانې یي ویلی، له نورو سره یي خبرې کولی، تسلا یي ورکوله، د مقاومت او مبارزې روحیه یي هڅوله، د هیلي رڼا یي بلوله، آن د سپتمبر د یوولسمي په هغه دوزخي ورځ کي. او دا هغه کار و چي ویکتور تل د هغي په هڅه کي و. د کودتا تالي ځتو د ویکتور د میړني حرکت څخه کله چي یي د «موږ به بریالي شوو» ترانه فریاد کړه قهرجن شول او پر هغي یي برید وکړ. ویکتور یي په وحشیانه ډول ووهو. د هغي د دواړو لاسونو او پښتی هډوکي یي مات کړل او په داسي حال کي چي هغه یي د خلکو مخې ته ودرولی و، فرمان یي ورکړ چي«اوس دې ګیتار وغږوه، اوس دې ترانې ووایه!» او

په دې ډول یي  غوښتل چې دا د مبارزې سمبول، دا د هیلې سمبول مات کړي. غوښتل یي د هغه سپکاوی وکړي، څو نور سرونه راټیټ کړي او د عافیت لاره ونیسي. د دغې دوزخي ورځې شاهدان وایي، ویکتور په ماتو لاسونو خپل ګیتار په ځنګل کې ونیو او د «موږ به بریالي شوو» ترانې ویلو ته یې ادامه ورکړه. څلوردیرش مردکې، څلوردیرش مردکي د انقلاب د ترانه ویونکي پر تن تشیرې، څو دا انقلابي ترانه پای ته ونه رسیږي؛ څو د هغو زرګونو زرو انسانانو غږ چې په دغه ورځ او دغه لوبغالي کې د خپل محبوب ترانه ویونکي سره دا ترانه ویله، غلی شي؛ څو د کودتا څرخ پای ته ورسیږي.

موږ پنځه زره تنه یو
د دې ښار په کوچنی ځنډه کې
موږ پنځه زره تنه یو.
د خپل ټول ټاټوبي په ټولو ښارونو کې
ټول له یو بل سره څو کسان کیږو
دلته لس زره تنه یوو
چې داني کري او کارخانې په حرکت راولي
څومره ډیر یو
د ولږې، یخنی، د درد، له ویرې
د دار او جنون سره!
د فاشیزم څیره څومره ډار کولای شي پیدا کړي
خپلې نقشې په ځیرتیا د ټګی سره پلي کوي
بې له دې چې څه ورته مهم وي
وینه ورته مډال دی او
وژنه اتلوالي
خدایه دا هغه دنیا ده چې تا پیدا کړی؟
د همدې لپاره دې اوه ورځ کار او اندیښنه وکړه؟
د دې څلور دیوالونو تر منځ
داسې شمیرې دي چې نور وده نکوي
چې ورو ورو د مرګ غوښتنه کوي
ناڅاپه پر ما هوښیاري یرغل راوړي
او وینم دا بې څپانده سیند او وینم د ماشینونو نبض
او سرتیري چې له مینې ډکې څیرې لري
او مکزیک، کوبا او ټوله نړۍ
چې د دې بدنامی فریاد کوي
موږ لس زره لاسونه یو  چې څه نه جوړوو
په دې ټول ټاټوبي کې څو لاسونه یو

**ترانه وایمه او څه یو رنځ دی ترانه ویل**
**کله چې ناچاره یم وحشت آواز کړم**
**هغه وحشت چې په کې ژوند کوم او هغه وحشت چې ورسره مرم**
**خپل ځان په بې پایه او بې بریده شیبو کې ګورم**
**چې په کې چوپتیا او فریاد د یو سرود غبرګونی پای دی.**

د ویکتور سوری سوری او شکنجه شوی جسد د دسمبر په شپاړسمه نیټه د یو ځوان کارګر لخوا پیدا شو. همدا ځوان کارګر و چې د ویکتور له میرمنې سره اړیکه نیسې او د دې انقلابي او محبوب ترانه ویونکې جسد هغې ته سپاري.
یوان ترنر، ویکتور خاورو ته وسپارو او بیا په پټه له چیلي وتښتیده. که څه هم د کودتا دولت د ویکتور خارا د ټولو ترانو د سوځولو دستور صادر کړ، خو یوان ترنر بریالی شوه وه چې د هغې ډیرې ترانې له چیلي وباسي او د انقلابي موسیقی د نړۍ په واک کې کیږدي.